د کابل مجلې څخه - ګڼه ۱۲۸ - مخ ۱۳ - عقرب ۱۳۲۰ - اکتوبر ۱۹۴۱

# منثور شعر

## آ- زلمی ...!

ښاغلی محمدرسول «پښتون»

آئن ! آ ډېرون ښکلي زلمي ! زه برائې هلته وم چېرې؟ هلته چه ټوله ستا د تورو زلفو په تیاره کې د بېهوشۍ شراب خوړلي مبهوت وه، هلته مځکه آسمان، بڼ وصحرا سمه وغر، ستورې وسپوږمۍ نور . . . . . . نور ټوله موجود وه، هغه وخت چه خلک حیران او په فکر ډوب وه او چاوچا ناز یازارۍ کولې او څنو ساز، یاغوږ نیولی، او چا هم ځان ته تکلیف ورکړی متانت ئې سا ته ما په هغه حال کې هم ستا فکر لاره، کله به مې ستا د بې نیازۍ خوا تصویر سوې خوابدی، او کله به مې د امید خوا ډېره سوې خوشحالی په راښخه کېده - نه پېژنم ځما د تاسره دادونه مینه پر څه ده؟ اوستا کومه خوا خوږواله دیادولو وړده چه ما خپل خواږه او ګران احساسات ستا په مینه کې دلاسه ورکړی، او تل ستا د ناز په تارو اړ وتلی یم، آ- ښایستي اود کبر میرمنې! رښتیا وواېه چه دادونه عمر کې چه عالمونه دي پدې جال کې وژلېدي ستا یو وخت پر چا زړه سوی دی؟ اوستا دې په خدای ږوکه اختیار د ژوند ستا په لاس وای تا به پخپله غېږ کې وچا ته ځای ورکړی وای؟ خلك وائي چه ........ به ستا نژدې ملګرې اودوستان وای مګر دا نه ده معلومه، ولې چه هر چا ستا وخوښه ته کتلي او تملق دلارې راغلي دي ته د زړه دوست، اوبلکه زړه تلري چه د چا مینه پکښې وساتې، ته یوه بوالهوسه او بې ارادې محبوبه ئې، په هر وخت کې جلا، جلا خو یونه لرې او په هر چا خیله کوې او د زړه رازو هیڅ چاته نه وائې - ستا رازونه ټول د تاسره دي؛ او ګوره ته خو هم مرګ لرې، دا خورا ته وواېه؟ موږ چه ستا د ښکلتانه خپې وړې اووژني مو تا پر چا زړه بایللي او د هغه په عشق کې سرور کوې؟

آهو! بې ښکلتانه مرګ نشته نو هغه بیا څوك دی چه ته سره د دادونه ښائست اوغرور د دې په مینه کې فنا کېږي؟ موږ ته ولې هغه نه راښئې هغه څوك دی؟

آیا ته پخپله هغه ئې؟ او که هغه ئې نو بیا ولې مرګ لرې؟ او که دا هم ومنو نو بیا ولې پرون ځوانه اونن بیا ترهغه لا ښایسته ئې اوستا په تندي کې چا د زړتیا کوټان نه دي لیدلي - آهو! که عاشقه ئې تل ښکلي زلمي پر څه ئې؟ او که معشوقه ئې نو د ښکلتانه پتا څه دی؟ هر څوك زړېږي ته پر یوه حال ئې ولې؟ او دا به هم راته ووائې - چه ته هغه ډېرون زلمی ئې او که ما غلطه کړې ئې! که چېرې هغه نه یې نو ځما عشق د تاسره پر څه دی او که هغه ئې نو دې اوضاع ولې الېشه سوې او نن مې په نو ژ نو ژ نغمو وژنې؟ ښه! ته هغه ئې لوېي دې بدلېږي او که بل څوك ئې په هغه شکل ښکارې؟ نو د غه دی چه ستا پټې خولې او مختلفې جلوې موږ ټوله په حیرت کې اچولي یو.

دا سې هم وېل کېږي چه ته سره د خپلې جلوې په هر آن کې بدلېږې او ټوله هغه چه ستا په رڼا کې ژوند کوې د تا سره ملګرې کوې، ولې چه د ښکلتانه توان دې په چاپوري نسته- مګر زه وایم - په ته پر یوه حال ئې صرف کالي (لباس) او جلوه دې الېشېږي - ستا صورت د ډېره لطافته څخه زحمت د قالب ندی قبول کړی- که نه هر وخت چه دا قالب مات سوی وای نو به معلومه سوی وای چه وتاته تغیر پېښ سوی دی - ته همېشه پر یوه حال لیده سوی ئې اوستا د هر وخت نخښې د خلکو په زړه وي - نو دې داسې معلومېږي چه پرتا مرګ اغېزه نه کوي او زموږ ژوند هم چه د تا سره ټېنګه علاقه لري د تا سره یو ځای پاته کېږي د اتغیرات چه په ماده کې لیده کېږي دا اثر ستا د هغه قدرت دی چه الله تعالی ستا په کیفیت او ناوړه مزاج کې اېښې دی نو ځکه پر ضعیفو ځانو باندې اثر اچوي - او موږ چه ستا دا بدی بڼ طوطیان یو د هغه وخته چه د تا سره یو ځای راغلي یو، یو ځای به د ر سره یو.